مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی
۲۰۲۴/۰۲/۲۷

# د فتوی په باره کي مختصر بحث
(لسمه برخه)

نوي عقاید د اختلافاتو او له اسلام څخه د انحراف او انحطاط عامل سول:
حضرت رسول اکرم ص پوهېدی چي د ده له وفات څخه وروسته به د مسلمانانو ترمنځ اختلافات راځي او اختلافات به د جنګونو سبب کیږي نو ځکه یې د مسلمانانو د ببرولو لپاره وویل چي مسلمان ته ښکنځل کول فسق او له هغه سره جګړه کول کفر دی.
« حجاج له شعبه او هغه له علی بن مُدرک او هغه د زرعة او هغه د جریر څخه روایت کوي چي حضرت رسول ص د حجة الوداع په وخت کي ماته وویل چي خلکو ته ووایه چي چوپ سي او غوږ ونیسي. وروسته یې خلکو ته وویل تر ما وروسته مه کافران کیږی چي یو دبل غاړي به وهی او سره وژنی به» بخاري، کتاب العلم حدیث ۶۳
« موسی بن اسماعیل د ابوعوانه، هغه د مُغیره، هغه د ابی وایل او هغه د عبدالله له قوله وایي چي حضرت رسول وویل زه به ترتاسي دمخه د کوثر پر حوض باندي ولاړ یم او ستاسي له جملې څخه به یوه ډله کسان راته راوستل سي. زه به غواړم چي هغوی ته د کوثر اوبه ورکړم خو دوی به زما څخه لیري کړل سي. زه به ووایم چي اې خدایه دا خو زما صحابه دي. خدای به راته ووایی چي ته نه پوهېږې چي دوی ستا څخه وروسته په مذهب کي نوي شیان داخل کړل » بخاري، کتاب الفتن حدیث ۲
دا حدیث په بخاري کی په دوو نورو سلسلو، دریم او څلورم حدیث کي، هم تایید سوی دی. ګواکي حدیث المشهور دی او د بشپړ اعتماد وړ دی.
د بخاري د همدغه کتاب څلورم حدیث د دوهم او دریم حدیث په ادامه، د حضرت رسول اکرم ص له قوله، وایی چي دغه کسان به ماته را وښودل سي چي زما په دین کي یې تغییر راوستلی دی نو زه به ږغ کړم چي لیری سی! لیري سی! زما څخه، چي زما په دین کي مو تغییر راوستلی دی.
د حضرت رسول اکرم ص دا اندېښنه پرځای وه. د هغه له وفات څخه وروسته، ابوبکر صدیق په شریعت او حدودو کی لږ تغییر راووست؛ خو د هغه له درېِ کلن خلافت څخه وروسته، عمر فاروق لومړنی سړی وو چي د تراویح د لمانځه په اختراع کولو سره یې لومړنی بدعت وکړ.
په بخاري کي لولو: « د عبدالرحمن بن عبدالقاري څخه روایت دی چي وایی یوه شپه د روژې په میاشت کي زه له عمر بن خطاب سره مسجد ته ولاړم او هلته مو ولیدل چي خلکو په ډله ډله لمونځ کاوه او یو سړی لا یوازي پر لمانځه ولاړ وو. عمر وویل زما په عقیده دا کسان باید د یوه قاري تر امامت لاندي پر لمانځه ودروم. نو ده فیصله وکړه او أُبی بن کعب ته یې وویل چي د خلکو امامت وکړي. بله شپه زه بیا له عمر سره مسجد ته ولاړم او هلته مو ولیدل چي خلک په أُبی بن کعب پسي ولاړ ول. عمر چي دا خلک ولیدل نو وې ویل چي څه عالي بدعت مي وکړ. . . » بخاری، کتاب الصلاة التراویح حدیث ۳
له عُروة څخه روایت دی چي عایشي رض ورته ویلي وه چي د الله پیغمبرص یوه شپه په نیمه شپه کي مسجد ته ووت او ځینو خلکو د هغه تر شا لمونځ وکړ. په سهار خلکو یوه بل ته کیسه وکړه. بله شپه د خلکو شمېر نور هم زیات سو او په دریمه شپه د خلکو شمېر لا هم زیات سو. پیغمبرص په څلورمه شپه مسجد ته ونه ووت او په سبا سهار یې خلکو ته وویل چي که زه تېره شپه درته راوتلی وای نو زما سره دا وېره وه چي تاسی به دا لمونځ پر ځان باندي واجب وګرځوی او یو وخت به مو په وس پوره نه وي نو ځکه زه تېره شپه راونه وتلم. څضرت پیغمبر وفات سو او له هغه وخته څخه بیا خلکو خپل د شپې لمونځ هر یوه په تنهایی سره کاوه » هغه کتاب حدیث ۵
لومړی خو، د دریم حدیث په استناد، عمر پخپله ویلي دي چي ډېر عالي بدعت مي وکړ( نِعم البدعة هذهِ) په داسي حال کي چي د نوي لمانځه د امر کولو او منځته راوړلو صلاحیت یوازي او یوازي له حضرت پیغمبرص سره وو او بل هیڅا ته دا حق حاصل نه وو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

دوهم دا چي که يې چيري، د يوې شپېې لپاره، ومنو چي تراويح سنت لمونځ دی؛ نو دا خو په هيڅ حديث کي نه دي راغلي چي تراويح څو رکعته دي. که په کوم کتاب کي مشخص رکعتونه راغلي وي هغه ځکه د اعتبار وړ نه دي چي په معتبرو احاديثو، بخاري او مسلم کي نه وي نو سړی به يې ولې حتماً مني.
دريمه خبره لا داده چي که چيري دا ومنو چي تراويح سنت لمونځ دی نو کوم مسلمان ليدلي دي چي يو وخت چا سنت په جماعت کړي وي؟ يوازي فرض رکعتونه په جماعت راغلي دي او هيچا هيڅ وخت نه دي ليدلي چي حتی وتر واجب دي هم چا په جماعت کړي وي. مخکي مو وويل چي عايشه رض وايی چي حضرت رسول ص بيا هيڅ وخت د شپې لمونځ په جماعت ونه کړ. هغه وفات سو او د ابوبکر صديق په زمانه کي هم چا په جمع تراويح نه دي کړي او عمر پخپله اعتراف کوي چي دېر عالي بدعت يي کړی دی. په داسی حال کي چي مخکي مو وويل چي حضرت رسول اکرم ص په خپل دين کي له تغيير سره مخالفت کړی او د کوثر پر حوض يې له هغو کسانو څخه بېزاري ښودلې ده چي په دين کي يې تغييرات راوستلي دي.
دوهم بدعت: انس بن مالک وايي حضرت رسول ص يو سړی چي شراب يې چښلي او نشه وو د خرما په لښتو او څپليو وواهه. او ابوبکر صديق شراب چښونکی څلوېښت دُرې وواهه. بخاري، کتاب الحدود حديث ۲.
« له عُقبة بن الحارث څخه روايت دی چي النعمان يا د النعمان زوی يې د شرابو چښلو په تور حضرت رسول ص ته راووست. هغه موږ ته امر وکړ چي ويې وهی. موږ ټولو هغه وواهه او ما پخپله هم هغه په څپليو وواهه » هغه کتاب حديث ۳.
« له ابوهُريره څخه روايت دی چي يو نشه سړی يې، چي شراب يې چښلي وه، حضرت رسول ص ته راووست. حضرت رسول ص امر وکړ چي ويې وهی. موږ ځينو په لاسونو او ځينو په بوټونو وواهه. او ځينو خو له خپلو جامو څخه دُرې جوړې کړې او ويې واهه. په دې وخت کي يوه باندي ږغ کړه چي خدای دي وشرموه! حضرت رسول ص وويل دا خبره مه کوه ځکه چي ته له شيطان سره مرسته کوې چي پر ده باندي غښتلی سي» هغه کتاب حديث۶.
« له علي بن ابی طالب څخه روايت دی چي ويل يې زه به پر هغه چا باندي هيڅ زړه ونه سوځم چي تر حد لاندي مړسي. خو که پر يوه نشه سړي باندي، چي شراب يې چښلي وي، حد چلول کيږي او هغه تر حد لاندي مړسی نو زه به د هغه ورثې ته تاوان ورکوم ځکه چي د الله پيغمبرص د نشه سړي لپاره مشخصه سزا نه ده ټاکلې» هغه کتاب ۷ حديث.
« د السايب بن يزيد څخه روايت دی چي موږ د حضرت پيغمبرص په وخت کي نشه کسان په لاسونو، څپليو او يا له جامو څخه په تاو کړو دُرو وهل. دا کار د پيغمبرص، ابوبکر او د عمر د خلافت په لومړيو وختونو کي روان وو. عمر د خپل خلافت په وروستيو کي د شرابي سړي سزا ۴۰ دُرې وټاکله او کله چي د شرابو چښل زيات سول نو هغه د شرابو چښلو سزا ۸۰ دُرو ته لوړه کړه » هغه کتاب حديث ۸
د دومره زياتو او معتبرو احاديثو د موجوديت په صورت کي چي نه حضرت رسول او نه ابوبکر د شرابو چښونکي کومه خاصه سزا ټاکلې وه نو عمر به څوک وو چي له خپله ځانه يې د شرابو چښونکي  ته اتيا دُرې سزا ټاکلې ده؟ که دا بدعت نه وي نو بدعت څشي دی؟
د قرآن شريف د سورة نساء ديارلسم او څوارلسم آيتونه د حق متعال او د هغه د رسول ص له خوا د ټاکلو سويو حدودو د رعايت کولو په برخه کي څرګند حکم لري:
تِلکَ حُدودُاللهِ و مَن يُطِع اللهَ و رسولَهُ يُدخِلهُ جنت تجری من تحتها الانهار خلدين فيها و ذالک الفوز العظيم.
ترجمه: دا د الله حدود دي او څوک چي د الله او د هغه د رسول اطاعت کوي هغوی، د تل لپاره، جنت ته داخليږي چي تر ونو لاندي يې ويالې بهيږي او دا يوه ستره لاسته راوړنه ده.
په وروسې آية کي راغلي دي:
و من يعصِ اللهَ و رسولَهُ و يتعدَّ حدودهُ يُدخِلهُ نارًا خلدًا فيها و لَهُ عذابٌ مُهين.
ترجمه: او څوک چي د الله او د هغه د رسول څخه سرکښي کوي او تر حدودو يې تيری کوي نو هغه به د تل لپاره په دوږخ کي وي او هغه ته به توهينوونکي سزا ورکړه سي.
د قرآن شريف د پنځم سورة المايده ۴۴ اية د حدود د رعايت کولو په برخه کي څرګند حکم کوي او حکم يې عام دی ځکه چي « وَمَنْ» يعني هر هغه څوک:
و من لم يحکُم بمآ انزل الله فأُولآءِکَ هُمُ الکافرون.
ترجمه: او څوک چي د الله له خوا له نازل سوي کتاب سره سم قضاوت نه کوي هغوی کافران دي.
عمر فاروق زناکاران په سنګسار محکومول او ويل يې چي دا حکم په قرآن شريف کي راغلی وو او موږ هغه آية تلاوت کاوه. هغه مو په ياد وو او په پوهېدلو او د الله پيغمبر هم مړوبني ښځي او د واده څښتن نارينه ته د زنا په ګناه د سنګسار سزا ورکوله. زه وېرېږم چي يو وخت به خلک دا سزا هېره کي او وايي چي به دا د الله په کتاب کي نسته.... صحيح مسلم، کتاب الحدود حديث ۱۹
کله چي د دونه مهم حد په باره کي، چي د دوو تنو وحشتناک وژل او سنګسارول دي، په قرآن شريف کي آية موجود نه وي او د حضرت رسول ص څرګند حکم درک ونه لري نو سړی به د عمرفاروق دا خبره څرنګه ومني چي په قرآن شريف کي آية موجود وو او د هغه او نورو کسانو په ياد وو خو اوس هغه آية نسته. هغه آية بالاخره څه سو؟


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څېر و لولئ

آیا ممکنه ده چي د عمر او د قرآن شریف د سل ګونو حافظانو دي داسي یو آیة هېر سوي وي؟ موږ مجبور یو چي دا هم د عمر بدعت وبولو.
ځکه چي په قرآن شریف کي په دې برخه کي صراحت سوی دی او الله ج وایي موږ هیڅ آیة نه منسوخوو او نه یي ستاسي څخه هېروو تر څو تر هغه مو بهتر او یا د هغه په څېر بل آیة درته رالېږلی نه وي. دوهم سورة البقرة آیة ۱۰۶
که د سنګسار په باره کي آیة موجود وو او حق متعال د، عمرفاروق په شمول، د قرآن شریف له سلهاوو حافظانو څخه هېر کړی وي نو د هغه آیة په بدل کي بل آیة کوم دی چي عمرفاروق په هغه د عمل کولو امر کړی دی؟
په قرآن شریف کي د مېرونبي ښځي او واده سوي نارینه ترمنځ د زنا د عمل وروستنۍ سزا هر یوه ته سل دُرې ټاکله سوې ده. او هغه هم په هغه صورت کي چي څلور صادق شاهدان به شاهدي ورکوي چي نارینه او ښځه یي د زنا د عمل د اجراء کولو په وخت کي لیدلي دي. او که چیري هرشاهد دروغجن ثابت سي نو هغه به اتیا دُرې وهل کیږي.
د زنا عمل د څلورو تنو صادقو شاهدانو له خوا لیدل کېدل په حقیقت کي غیرممکن ته نیژدې خبره ده. حق متعال پر بېګناه ښځو او نارینه وو باندي د بېځایه بهتان د ویل کېدلو د مخنیوي لپاره دغه ډول سخت شرایط وضع کړي دي او بهتان ویونکی یي هم په سخته سزا وېرولي دي.
همدغو بدعتونو او دغه راز د سلهاوو زرو جعلي احادیثو جوړېدلو په وروسته کي د مسلمانانو ترمنځ فرقي او اختلافات منځته راوړل. هر لوی مُلا دوه دري او ځینو خو شل دېرش کتابونه ولیکل او د خلکو د رهنمایی کولو پرځای د هغوی د ګمراه کېدلو سبب سول.
عمر فاروق ښایی دغه او نور بدعتونه په ښه نیت کړي وي خو بدعت په هرصورت بدعت دی او په شریعت کي ځکه ناروا بلل سوی دی چي حضرت رسول ص هغه ته په هیڅ توګه اجازه نه ده ورکړي او حتی بدعتګران یي خپل اصحاب او امتیان نه دي بللي. په وروسته کي د مسلمانانو ترمنځ د اختلاف یو مهم او حتی عمده علت همدغه او نور بدعتونه دي.
البته عمر فاروق دونه قوي او عادل شخصیت وو چي د اسلام په ټول تاریخ کی یي بیا معادل شخصیت او ساری نه دی لیده سوی. خلکو هغه ته د خلیفه په حیث نه بلکه د یوه رهبر په سترګه کتل. خلکو د هغه له دُرې څخه، چي تل به ورسره وه، دونه وېره نه درلوده لکه له هغه سره چي یي مینه درلوده؛ او دغه علت دی چي که ده په دیني امورو کي څه نوي شیان اضافه کړي دي اهل سنت والجماعة هغوی ته د سنتو په سترګه ګوري او تر اوسه پوري یي د سنتو په حیث اداکوي.
عمر بن خطاب د اسلام په تاریخ کي تر ټولو عادل او پرهیزګار خلیفه تېر سوی دی. د هغه عدالت او پرهېزګاري په اسلام کي افسانه سوه او پخپله دی د عدالت یو سمبول سو. هغه د نورو عادی خلکو په څېر ژوند کاوه د خلکو په څېر کالي یي اغوستل. هرچا کولای سوای چي هغه وویني او خپل عرض ورته وړاندي کړي او هر چا په خپل حق کي له هغه څخه د عدالت او انصاف انتظار درلود.کله چي اموي خلیفه عمر بن عبدالعزیز د وخت د فساد او بې عدالتیو پرضد اقدامات پیل کړل، که څه هم چي د قدرت زمانه یي ډېره لنډه او څه کم دري کاله وه او وروسته مسموم او ووژل سو، په تاریخ کي ثاني یا دوهم عمر وبلل سو. او که دا نوم د عمر بن عبدالعزیز په ژوند کي وربادندي ایښودل سوی وي نو حتماً به یي ډېر افتخار په کړی وي.
مسعودی لیکي چي عمر ډېر متواضع سړی وو. زیږې جامې یي اغوستلي او د خدای د اوامرو په عملي کېدلو کي یي له سختی څخه کار اخیست او په لیري پرتو او نیژدې ولایاتو کي یي حاکمانو هم د ده په شان سلوک کاوه. مسعودي لیکي چي د هغه وړینو او زیږو جامو ته څرمن پینه وه او له ټول مقام او جلال سره یي مشک پر اوږه باندي اخیست او پر اوښ باندي سپرېدی او د اوښ کته یي د خرما له پوست څخه جوړه سوې وه. په داسي حال کي چي پرېمانه ولایات یي ترلاس لاندي ول او خدای پرېمانه مالونه په اختیار کي ورکړي ول. مسعودي، مروج الذهب جلد اول ص ۶۳۲
طبري لیکي: « عمر لومړنی سړی وو چي نېټه یي وټاکله او پر مکتوبونو او اجرآتو باندي یي تاریخ ولیکی. لومړنی سړی وو چي بیت المال یي جوړ کړ او لومړنی سړی وو چي د شپې یي پخپله ګزمه کوله. لومړنی سړی وو چي د هغي مینځي خرڅول یي منع کړل چي د بادار په کور کي به یي ماشوم زېږولی وو. لومړنی سړی وو چي د جنازې په لمانځه کي یي څلور تکبیرونه وټاکل او مخکي به څلور، پنځه او شپږ تکبیرونه ویل کېدل. عمر لومړنی کس وو چي خلک یي پخپله په شلاقو وهل او لومړنی سړی وو چي د روژې په میاشت کي یي د شپې لمونځ په جماعت وکړ او ولایاتو ته یي ولیکل چي هغوی دي هم دغه لمونځ په جماعت ادا کوي. او د محمدبن عمر په روایت کي راغلي دي چي عمر د هجرت په څوارلسم کال دغه اقدام وکړ. د دې مقصد لپاره یي د نارینه لپاره نارینه قاري او د ښځو لپاره ښځینه قاري وټاکله » طبري، ص ۲۰۴۷
جرجي زیدان لیکي: « د عمر تقوا، پاک لمني او پرهېزګاري دونه مشهوره ده چي سړی په هغه باره کي نور څه ویلای نه سي. په لنډ ډول باید ووایو چي عمر د اسلامي دولت موسس وو او هغه یي پر داسي اساس جوړ کړ چي بیا هیڅ وخت خراب نه سو. هغه د اسلام د دولت اساس پرعدل، تقوی، زهد او د حقیقت په لاره کي د هرڅه پر ښندلو بناء کړ. او په تاریخ کي داسي کسان چنداني نه پیدا کیږي چي د هغه په څېر دي له هره اړخه باندي ختمه وي. ښایی په لومړي سر کي دا خبري مبالغه ښکاره سي مګر کله چي د هغه د عملیاتو نتایجو ته وګورو نو څرګندیږي چي د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

عمر په ښېر بل سړی په تاریخ کي نه وو پیدا سوی. دا خبره به کافي وي چي ووایو چي د عمر په وخت کي د اسلام د فتوحاتو له امله خزاني او مالونه د سېل په ډېر ورته روان ول او عمر هغو ته هیڅ ډول توجه نه کوله او هیڅ شی یي ورڅخه وانه خیست؛ او یوازي خپله تنخوا یي، چي د نورو سابقه دارو صحابه وو سره مساوي وه، اخیستله. او کله چي به یي ضرورت سو نو د بیت المال له آمر څخه به یي پور کاوه او چي تنخوا به یي واخیستله تر هر څه مخکي یي د بیت المال پور ادا کاوه. . . » زیدان، تاریخ تمدن اسلام ص ۲۲۲
وایي کله چي د دریم خلیفه عثمان بن عفان په مخ کی د عمر فاروق د احتیاط، پرهېز او د بیت المال د پیسو د نه لګولو خبره یاده سوه نو محمدبن عمر وایي عثمان وویل : « عمر د خدای د رضا په خاطر خپل دوستان او ملګري محروم کړی ول او زه د خدای د رضا په خاطر خپلو دوستانو او ملګرو ته یو څه ورکوم. او خبره دا ده چي د عمر په ښېر خو دري تنه نور نه پیدا کیږي » طبري ص ۲۰۶۲
عمر د هجرت په دیرویشتم کال، چي ۶۴۴ میلادي سنه کیږي، د ابولوءلوء په نوم یوه غلام په مسجد کي د سهار د لمانځه پر وخت په خنجر وواهه او څو ورځي وروسته وفات سو. ابولوءلوء څو تنه نور هم په مسجد کي ټپیان کړل او کله چي یي عمرفاروق وواهه نو له هغه څخه لیري سو او د بنی تمیم له قبیلي څخه یوه تن ونیوی او مړ یي کړ. له هغه څخه یو حنجر ولوېدی چي عبدالرحمن بن ابی بکر مخکي د ابولوءلوء او د هغه له ملګرو سره لیدلی وو. عبیدالله بن عمر د خپل پلار تر وفات پوري صبر وکړ او کله چي یي پلار وفات سو نو یي توره واخیستله او هُرمُزان، دابولوءلوء لور او جفینه یي قتل کړل. عمروبن عاص په زاریو توره ورڅخه واخیسته او سعد بن وقاص ونیوی او په خپل کور کي یي بندي کړ. هغه کتاب، ص ۲۰۸۵
عمر له ټپی کېدلو څخه ژر وروسته پوه سو چي نور د جوړېدلو نه دی او ځینو صحابه وو هم ورڅخه وغوښتل چي خپل ځای ناستی وټاکي. عمر د ابوبکر صدیق په خلاف، چي مستقیماً یي پر خپل ځای باندي عمر ټاکلی وو، څوک تعیین نه کړ او د خلیفه د انتخاب صلاحیت یي یوې شپږکسیزي شورا ته وسپاره. چي عبارت وه له عثمان بن عفان، علي ابن ابي طالب، عبدالرحمن بن عوف، سعد بن ابی وقاص، طلحه بن عبیدالله او زبیر بن عوام.
ټاکل سوي شورا، له دریو ورځو سلامشورو څخه وروسته، عثمان بن عفان تعیین کړ او له دغي نېټي څخه د علي ابن ابي طالب طرفدارانو مخالفت ښکاره کړ چي وروسته شیعه یا طرفدار او حامیان وبلل سول. دا اختلاف، چي په ظاهره وړوکی ښکارېدی، په وروسته کي، د اسلام په دین کي، د یوه لوی درز د راتللو سبب سو. شیعه یا اهل تشیع خپله فقه بېله کړه او فقه جعفری یي وبلله، په احادیثو او د آیتونو په تفسیر، په تېره بیا په تأویل کي یي ډېر ژور اختلاف ظاهر سو او تر نني ورځي پوري د سلهاوو زرو مسلمانانو د وژل کېدلو او د دواړو خواوو د هرډول بشري او عقیدوي حقوقو د غصبېدلو سبب سو.

پاته لري

[په افغان جرمن آنلاین کي پورتال د لیکوال آرشیف]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ